# د پښتونخوا په کلتور د بېلابېلو کلتورونو اثرات

# The Impact of Various Cultures on Culture of Khyber Pakhtunkhwa

Zar Mohammad Sangar [1], Ahmed Ali Aajez [2]

The entire Khyber Pakhtunkhwa has made historical roots back within the past. The history of the region records various cultures arrived dominated and owner-occupied on this region. Most of them invaded Pakhtunkhwa. However, all of these cultures left robust cultural impacts upon inhabitants of Pakhtunkhwa. This short study aims at throwing lightweight on those impacts that have created place in customs, cultural values and everyone those branches that have strong connection to the life variety of Pakhtunkhwa folks.

**Key Words:** Impact of Past civilizations, Arians, Cultures, Customs, Invaders.

د پښتونخوا خاورې د تاريخ په اوږدوکښې ډېرانقلابونه ليدلي دي. ددې زمکې د اثارونه پته لګي چې د دې تاريخ په زرګونوکالونومحيط دے.د شروع نه تراوسه پورې د دې زمکې مخ لا سوړشوے نۀ دے په دې علاقه چې څومره قومونه تلي راغلي دي نو هغوي د خپل تهذيب، مذهب، تمدن، ژوند ژواک او نور ډېر قسمه اثرات او نښې نښانې پرېښې دي.

زمونږ په کلاسيکي ادب او ځينې نثري اثارو کښې هم چرته چې پښتانۀ اوسي ، پښتونخوا ورته وئيلے شوې ده. د دې نه علاوه د دې ځاے نور هم تاريخي نومونه شته لکه روه، روهستان، افغانيه، افغانستان او ياغستان.

له بده مرغه د اميرعبدالرحمان په وختو کښې د پښتونخوا په سينه په ۱۸۹۳ء کښې د ډيورنډ کرښه راښکلې شوه چې پښتانۀ ئې په خپلو کښې سره ووېشل. په دغه وخت کښې دا زمکه په څلورو حصو کښې تقسيم شوه چې يوه لويه برخه ئې افغانستان او نورې درې برخې ئې پاکستان کښې مختلفو حصو

1 Lecturer Islamia College University Peshawar
2 Assistant Protessor Department of Pashto UOP

کښې وېش دي لکه خيبرپښتونخوا، آزاد قبائل او ايجنسۍ،( چې اوس اوس په خيبر پښتونخوا صوبه کښې ضم شوې ) او د بلوچستان پښتانۀ.

بهرحال هرڅۀ چې دي خو د لږ ډېر تغير سره د دې خلقو ژبه، دود دستور، غم ښادي، ناسته ولاړه او د ژوند د تېرولو لارې چارې يو شان دي.مونږسره که څه هم د لرغونې زمانې نه کتاب شته او نۀ څه تاريخي سند يا دستاوېز، خو بيا هم ځينې آثار او ښې ښانې په نظرراځي.

" هغه ټول تهذيبونه او مدنيتونه چې له منځه تللي اونن ئې په اره زمونږسره هيڅ هم نشته، نو دغه لرغوني آثارمونږته لار ښودنه کوي، چې که ټول په ټوله نه وي ، نو د دغه تهذيبونو په باره کښې ترډېره حده پورې زمونږ په علم او پوهه کښې اضافه کوي" ۱

په شوروکښې دې علاقې ته ګندهارا وئيلے شوې ده. د سکندراعظم او دارا يوش چې په ۳۳۱ق م کښې تېر شوي دي په دغه زمانه کښې ګندهارا صوبه د ايران د سلطنت برخه وه ګندهارا ډېر زوړ تاريخ لري چې د کاڼي د دور پورې رسي.

"څومره پورې چې د " ګندهارا " نوم تعلق دے نو د دې په حقله وئيلے شي چې دا د يو آريا بزرګ " ګندهارايا" په نوم ايښودے شوے دے. او په زوړ وېد کښې هم موجوده خيبرپښتونخوا صوبه هم په دې نوم ياده شوې ده . د يوناني مؤرخينووېنا ده چې د اباسين او خيبر درې منځومانه علاقه په قطب کښې دير،باجوړ نه واخله سوېل کښې ترکوهاټه پورې علاقه دې کښې شامله ده د ګندهارا مشهوراو لوئې لوئې ښارونه پشکلاوتي (چارسده) پشپاپور (پېښور) ورشاپور (شهبازګړه) او اوډابهانډاپور (هنډ) وو "۲

د ګندهارا د نوم په بابله يوه بله رائے هم شته او د دې رشته د سنسکرت ژبې سره تړي او هم دغه بره ذکرشوې علاقه او ځائے ښودلے کېږي .

" ګندهارا د سنسکرت ژبې لفظ دے چې مطلب ئې دے د " وږمو هېواد" نننۍ خيبرپښتونخوا د هغه شنې ښېرازه سيمې پخوانے نوم دے کومه چې د پېښور،

مردان ، صوابۍ ، چارسدې ، سوات، باجوړ او کوهاټ په سیمو ودان دے.
دا سیمه د مودو مودو راسې د تهذیب او تمدن زانګو پاتې شوې ده او د دې په
غېږ کښې ډېرفنون راټوکېدلي دي " ۳

که لږنورهم په وسیع نظروګورو نو د تاریخ په کتابونوکښې په دې کښې د دغه ذکر شووعلاقونه نورهم ډېرځایونه ذکرشوي دي. د مارګلې نه راواخله ، په افغانستان کښې د کونړاوننګرهارسیمې هم ذکرشوي دي چې ګندهارا آرټ پکښې غزونې وکړې او دغه آرټ د خلقوپه زړونو ذهنونوکښې داسې ځاے ونیوو چې ترننه پورې په عجائب خانو کښې محفوظ پاتې شوے دے.

" په دې سیمو هم لکه د پښور ساکان، آریا، اساکیني، یونانیان، موریه،کوشان، هن، هندوشاهان، مغل، سېکهـ، او انګرېزان د واک خاوندان پاتې شوي دي. دې خاورې ته هر قام خپل خپل تهذیبي رنګونه پېرزوکړي دي ځکه خو په ټوله پښتونخوا کښې د تهذیب په ترڅ کښې نوموړے مقام لري . چارسده د ګندهارا تهذیب د یواهم مرکزپه حېث پېژندے شي " ٤

اوس هاغه تاریخي قامونه ځېرو کوموچې د تاریخ په مختلفو پړاونوکښې په دې خاوره حکومتونه کړي دي خپل آثار او باقیات ئې په څۀ نه څۀ شکل کښې پرېښي دي.

## د آرین اثرات

آرین څوک وو او چرته اوسېدل د دې په بابله هم مختلفې رائې دي خو په دوي کښې ځینې خلق چې مرکزي او باختري آرین ورته وئېلے شي دا خلق د هندوکش خواوشا کښې اباد وو او مرکز ئې کابل، بلخ، خراسان، ګندهارا، هرات او تخارستان وو.

د دوي دویمه ډله په ایران کښې اباده شوې وه چې هغوي ته ایراني آرین وئېلے شي. او دریمه ډله ئې په هندي آرین بللے شي دا خلق د خیبر او کابل په لاره د هندوستان په علاقو کښې خوارۀ شوي وو.

" د آریا قبیلو اصلي وطن خوارزم وو چې اوس ورته ازبکستان وئیلے شي د دې ځاے نه د هجرت کؤلو نه پس دا خلق څه موده په باختر او شمالي ایران کښې اوسېد ل او څه تقریبا دوه زره قبل مسیح دا خلق د هندوکش د غرونو په لارو د پاکستان علاقو ته را واورېدل"۵

څنګه چې د پښتنو د اصل نسل په بابله دوه غټې نظرئې دي یوه د آرین او دویمه د بني اسرائیل. مستشرقین او ځینې د افغانستان لیکوال وائي چې پښتانه آرین دي او د دوي د ژبې د ګرامر او قواعدو په لحاظ وائي او د جدید تحقیق نه هم ثابته شوې ده چې پښتانه آرین دي. د آرین په غورځونو به وېښته وو د اکثرو پښتنو په غورځونو هم وېښتهٔ وي. آرین ګله بان وو او څاروي به ئې ساتل غوانو او ګډو بیزو ته به ئې تعویزونه اچؤل اوس هم اکثر پښتانه خپلوڅاروو ته د نظرنه د بچ کېدلو د پاره تعویزونه اچوي هغه زمانه کښې هم دې خلقو کر کرونده کؤله اوس هم اکثر پښتانه زمیداري کوي.

د آرین اثرات په هندومت هم شته په دوي کښې ئې درجه بندي وکړه لکه برهمن، شودر، کشتري او وېش. دغه اثرات ډېر دېرپا دي چې تر اوسه پورې مونږ کښې شته د آرین لوبې هم تر اوسه پورې کېږي لکه ګلي ډنډه او پټ پټوڼے وغېره دا دور د ۲۰۰ق م نه تر ۵۵۰ق م پورې رسي . په پښتونخوا کښې د ډېرو کلو نومونه هم د هغه زمانې یادګاردے په صوابۍ کښې اوس هم هریان (اریان) ، شته ، بېکا چې د آریا قوم یو خاندان وو په نوم اباد دے . دغه شان د آریا یو بل خاندان بهالا په نوم بهالو کلے او په جلسۍ کښې بهولا ونډ هم شته د دې نه علاوه نور هم ډېر ځایونه او نومونه د هغه زمانې یادګار تازه کوي.

## یوناني اثرات

د پښتونخوا په کلچر باندې یونانیانو هم خپل اثرات پرېښودي دي د آرین او یونانیانو تر مېنځه یوه دوره د هخامنشي خاندان (۵۵۰ق م نه تر ۳۲٦ق م) هم رائجې. د یونانیانو د (۳۲۷ق م نه تر ۳۰۰ق م) پورې او بیا د یوناني باختریانوزمانه د (۲۰۰نه تر ۱۰۰ق م) پورې رسي.

" د مشهور یوناني مؤرخ هیروډوټس (٤٨٤-٤٢٥ق م) هم په خپله جغرافیه کښې ذکر کړے دے د دوي د ملک نوم ئې پکتیا لیکلے دے چې د اباسین

په غاړه واقع دے او خلق ئې ډېر بهادران دي. د دارا د زمانې اميرالبحر سکائي لاکس (۵۲۶-۴۸۶ق م) هم په خپله سفرنامه کښې د پکتيکا ذکر کوي" ۶

په ۳۳۱ق م کښې سکندر چې د فېلفوس زوے وو داراپوش ئې د خپل پلار په بدل کښې قتل کړو او د ګندهارا صوبه ئې هم په خپل حکومت کښې شامله کړه د د وي د لښکر نيمه حصه د خيبر په لار پېښور او چارسدې ته ورسېده او بله حصه ئې د سکندر په نګرانۍ کښې په سوات او باجوړ ورغله او دغه ټوله علاقه ئې قبضه کړه. د دې نه پس چارسده او بيا د هنډ په مقام په اباسين پورې وتو د سکندر په نوم په صوابۍ کښې سکندرے نومې کلے اباد دے .

" په صوابۍ کښې د سکندر د وختوآثاريات هم شته لکه د لاهورنه د سکندر د دور سيکې راوتې دي د درن د غر په لار سکندر راتېرشوے دے . د درن د وادۍ او باګر ډهېرۍ نه د يوناني طرز لوښي لرګي ملاو شوي دي په دې کښې د ټولو نه ښائسته د يوناني طرز د ډوب سور رنګ د اوبوصراحي ده چې په غړۍ ئې يوه ګرښه ګېرچاپېره تېره شوې ده. دوه واړۀ واړۀ مهين لوښي هم ملاو شوي دي د دې لوښو خاص يوناني طرزدې نظرئې له تقويت ورکوي چې سکندر په دې لار راغلے دے" ۷

د باختر اخري يوناني حکمران هرېس ووخو په دوي کښې تر ټولو مشهورمنانډر باچا وو چا چې د تانبې، سرو او سپينوزروسکې جاري کړې وې. د دغه دور په سيکو باندې د باچا د تصوير سره سره په مقامي ژبه کښې ليکل هم شوي دي. مصوري او انځورګري پرې هم شوې ده. د ونوبوټو، مارغانو، ځناورو او بنيادمو تصويرونه جوړول هم د دغه دور يادګار دے.

يوناني سپاهيانو په باختر کښې ودونه هم وکړل او بل د ډېموريت د کافرستان د خلقو دا دعوه چې مونږ يونانيان يو او هغوي ئې سپورټ هم کوي . د ځينو پښتنو قبيلو شکلونه هم بدل دي او زمونږ نه ئې طورطريقې هم بدلې دي. زمونږ جسماني لوبې لکه تتې او ټنډي هم د دغه خلقو يادګار تازه کوي ګلي ډنډه هم آريائي لوبه ده.

ترجمه: " ګلي ډنډا: دا لوبه به هلکانو کوله او د مزې خبره دا ده چې دا لوبه په ټول برصغیر او افغانستان کښې هم خوښېده ماته داسې لګي چې دا هم لکه زمونږ د روايتي لوبو غونډې يوه آريائي لوبه ده په موجوده دور کښې په کرکټ او ګلوډنډئ کښې ډېر يوشان والے دے"

د يونانيانو نه پس ساکادور راځي دوي تقريبا دېرش کاله حکومت کړے دے ـ ددغه دور سيکې موندلي شوي دي ديونانيانو حکومت ئې عمر دپاره ختم کړو دوي نه پس پارتهي او کشاني دور راځي چې بدهـ مت مذهب ته ئې ډېره ترقي ورکړه دې دور د ځان سره ډول سرنا او د ګټوبتان راوړل.د کشان په اثراتو کښې اوس هم د پښتونخوا په څنو علاقو کښې خلق پېزوانۍ څپلۍ او خلقې اچوي ددغه دورونو سټوپې او نورې نښې نښانې هم ځاے په ځاے شته.

## د هندو شاهي اثرات

د پښتونخوا په زمکه هندوانو هم حکومت کړے دے او دهغوي د تهذيب، کلتور او ژوند ژواک اثرات اوس هم خال خال زمونږ په معاشره کښې شته. د يونانيانو او هندو شاهي تر مينځه نورو ډېرو خاندانونوهم حکومتونه کړي دي لکه ساکا ، پارتهي ، ساساني ، ګپت ، هن ، راجه هرش ، ترک شاهي دوره او ورپسې لګېدلے دور د هندو شاهي دوره ده چې د ۸۷۰ء نه تر ۱۰۲٦ء پورې رسي . د دوي باني کلر ګڼلے شي دے د " سپالاپتي" په لقب مشهور وو د ده د نوم سيکې د هنډ او د ګندهارا د نورو علاقو نو هم تر لاسه شوي دي . د هندو شاهۍ په دوره کښې ئې دارالخلافه د کابل نه هنډ ته راوړه

" له اوومې پېړۍ نه پس دلته يو ځل بيا هندو مذهب راغے چې مونږ ورته هندو شاهي دور وايو د دوي مرکز هنډ وو"۹

د دې دور د ارهټ لوې لوې کوهيان اوس هم شته چې د اوبۀ خور کار به ترېنه اغستے شو. د دغه دورې کهنډرات هم ځاے په ځاے شته. د دوي عبادت خانې (درمسالونه ) او نورو نوادراتو کښې سيکې چې په هغې باندې د هاتهي ، زمري ، غوئي او د اسونو شکلونه جوړ دي. د هندوشاهۍ مضبوط حکمران راجه جېپال وو د هغه دارالخلافه هم هنډ وه. پنج پير دهندوانو مقدس ځاے ګڼلے کېدو. او په شاه منصورکښې " بوټکه " چې په حقيقت کښې " بت کده " وه دغه ځاے کښې د

مسلمانانومقبره هم وه دغه ځائے د هندوشاهئ د دور سیکې ، بتان او لوښي لرګي هم موند لي شوي دي چې د دوي د دوو باچاهانو واکادېوا او سري سمنتا دېوا د زمانې سره تعلق ساتي. د زېدې په حدودو کښې د کافرکوټ ډهېرئ نه هم ډېر آثار تر لاسه شوي دي. ګوهاټے او نور د ډېرو کلو نومونه هم د دغه دورې یادګار دي.

د هندوشاهئ اثرات زمونږ په ژوند لکه قبر پرستي ، پیرپرستي او نور ډېر توهمات هم دغه دور سره تعلق ساتي لکه شګون ، توره پیشو ، د کارغهٔ اواز اورېدل ، سحر وختي داسې څوک لیدل چې د بنده پرې د سپېرهٔ ګمان اوشي. ټوټکي چې په زنانوؤ کښې عامې دي لکه مرچکي یا سپېلني لوګے کول ، جوګي توب او د هغې اثرات منل.

زمونږ په فوک ادب کښې هم دغه اثرات برېښي لکه د هندو د یار د پاره غوښه خوړل یا دا چې

یار مې هندو زه مسلمان یم
د یار د پاره درمسال جارو کؤمه

د هند نه داسې اثرات هم راغلي دي چې هغه زمونږ د کلچر حصه ګرځېدلي دي لکه سپي او مرزان جنګول ، په ځجرو کښې مجرې کؤل ګني پښتنو به چې جنګ وګټلو نو په خپله به ئې اتڼ اچولو ، د دوي سپو او مرزانو جنګولو ته هېڅ ضرورت نه وو.

## د بدهـ مت اثرات

هر کله چې د سکندر د مرګ نه پس یونانیان د اقتدار د حصول د پاره په خپلو کښې ونښتل نو په دې علاقه د هغهٔ یو جرنېل چندرګپت قبضه اوکړه د هغهٔ د وفات نه پس د هغهٔ زوے بندوسار حکمران شو بدهـ مت مذهب ته ئې ډېره ترقي ورکړه. اشوک هم دلته د بدهـ مت تبلیغ کړے دے . چیني سېلاني هیون سانګ د ستوپې او عبادت خانې ذکر کړے دے پاڼیني څوک چې د سنسکرت ژبې ګرامر لیکونکے وو هم د صوابئ سره تعلق لرلو د هغهٔ په نوم لاهور کښې پنے وندهـ شته او دغلته یو بل بدهو وندهـ هم یادېږي.

" په صوابۍ او مردان کښې د بدھ مت د تهذیب غټ غټ ځایونه تخت بهائي ، سرائے بهلول ، شهبازګړه ، جمال ګړهۍ ، ساولډهېر ، ټوپۍ ، هنډ ، لاهور او راني ګټ دے خو د راني ګټ تهذیب د ټولو نه مشهور او په بین الاقومي سطح منلے شوے دے د چرته نه به چې د ګوتم بدھ مجسمې د تبلیغ د پاره لېګلے شوې " ۱۰

څنګه چې د بدھ مت د تهذیب لوئې مرکز راني ګټ وو همدغه شان د کشان دور پېزوانۍ څپلۍ او پخوانۍ خلکې د یوسفزو مشران اچوي .

ځینې توهمات او رسمونه رواجونه د هغه دور په څۀ نا څۀ شکل کښې ځان څرګندوي لکه ځینې خلق د شورو (بدھ ) په ورځ سترګې نه توروي او جامې هم نه وینځي ، یا چرګوټے د پښې لاندې راتلل ، لاسونه او ګوتې پوکل ، په سترګوکوتې وهل او هغه پوښکلول. د ډېرو کلیو او ځایونونومونه هم د هغه دور یادګاردي. پښېماني اوننواتې هم د بدھ مت اثرات دي. هرکله چې د ګوتم بدھ تربورمرغۍ وویشتله او زخمي راپرېوته نوګوتم بدھ د هغې علاج وکړو اوبیا ئې پرېښوده دغه شان د زورزیاتي معافي غوښتل خدائي خدمتګارتحریک په پښتون قام کښې د عدم تشدد فلسفه دوباره راژوندۍ کړې وه ګني دا د هغوي په خمیر کښې د وړاندې نه شامله وه تصوف، عرفان، موسیقي او ګوشه نشي اختیارول هم ددغه دوراثرات دي.

## د زرتشت او ایراني اثرات

زرتشت د قدیم ایران مفکراورهنما وو دے په آذربائجان کښې د ګنج په مقام په ۶۶۰ ق م کښې پېدا شوے وو او په ۵۸۳ ق م کښې وفات شوے دے ځواني ئې ټوله په جذب او استغراق کښې تېره کړې وه د دېرش کالوپه عمر کښې ئې د خدائے د وجود اعلان وکړو هلته ئې هېچا خبره و نۀ منله او مشرقي ایران ته راغلو د شاه ګستاسپ په دربار کښې دېره شو او دده دواړه زامن ئې پېروکار شول باچا هم دده مذهب قبول کړو د زرتشت مذهب په پاداشت کښې د ایران او ترکې تر مېنځه جنګ اوشو اودے د بلخ په مقام د یو توراني سپاهي د لاسه قتل شو خو ده د خپل مسلک ډېر خلق پېدا کړي وو. په ایران باندې د مسلمانانو د قبضې نه پس دا مذهب ختم شو خو اوس هم

په ایران ، هندوستان او پاکستان کښې چې کوم لږ ډېر فارسیوان موجود دي ددې مذهب پېروکار دي. د ځینې خلقو په خیال زرتشت د دوه خدایانومنونکے وو یو آهوره یزدا یعنې خالق یزدان چې د ټولو ښو او نېکو کارونو مالک او ذمه وار دے او دویم اهرمن چې د بدۍ ، دروغو او تباهۍ طاقت دے څنګه چې رڼا او تیارهٔ د یو بل مخالف او ضد دي دغه شان خېراوشر. د ازل نه ددې دواړو طاقتونو کشمکش راروان دے او تر ابده به جاري وي. کله چې د یزدان د طاقت غلبه وي نوپه دنیا کښې به نېکي ،امن ، سکون او خوشحالي وي او چې د اهرمن غلبه زیاته شي نو فسق و فجور، ګناه ، منافقت او عصیان ښکاره شي خو اخر فتحه به د نېکۍ وي. فارسیان اور یو پاک او پاکونکے څیز ګڼي دهغوي په محلونو او عبادت خانوکښې هروخت اوربلېږي ځکه دا خلق اتش پرست ګڼلے شي. عرب ورته مجوسیان وائي د دوي په آتش کده کښې د زرګونوکالونو نه اور بلېدو خو هرکله چې سرورکائنات نبي ص دنیا ته تشریف راوړو نو دغه اورخودبخود مړشو. زرتشت مذهب په موجوده وخت کښې د فارسي مذهب په نوم پېژندے شي.

> " ایران د مشرق وسطي یواهم تهذیب یافته ملک دے چې د خپل تاریخ، تمدن، ادب او ژبې په وجه په نړختیزملکونوکښې یواوچت مقام لري . تهران د دې دارالخلافه ده د دې تهذیبي اثرات په افغانستان ، مېنځنۍ ایشیا ، برصغیر او د عربو په ملکونو شوي دي " ۱۳

د ایران او افغانستان نه علاوه په متحده هندوستان کښې هم فارسي درباري ژبه وه . زمونږ زیات علمونه په عربۍ او فارسې کښې دي فارسې مونږه ادبي ، معاشي او معاشرتي لحاظ سره متاثره کړي یو دې زمونږپه کلتور باندې ډېرشوخ او پاخهٔ رنګونه پرېښي دي لکه په نغري کښې متیازې نه کول ، په اور باندې علاج کول لکه څاروي ته داغ ورکول، شب قدرکښې د اور پنډوس لړه کول او د اختر په شپه د ماشومانو اورونه بلول. زمونږ ډېرمتلونه هم د اور په بابله دي لکه د اورسوے په اور رغېږي ، یور یو برغوړے اور ، اور ته راغله د کور مېرمن شوه او داسې نور .

## د اسلام اثرات

د نړۍ په مخ پښتون قام پنځۀ زره کاله زوړ تاريخ لري اسلام دلته د صحابه کرامو د راتلو سره راغلو دې مېړني قام اسلام ځکه په هېره قبول کړو چې دوي ته اسلام او پښتو يوشيز ښکاره شول . اسلام زمونږ ژوند ټول په ټوله په خپله غېږه کښې واغستو اسلام زمونږ قبائلي ژوند په عالمګيره ورورولۍ کښې بدل کړو د امير غريب او تور سپين فرق ئې تر ډېره حده ختم کړو .

کله نه چې عربو ته زمونږ تلو راتلو ډېر شوے دے نو دې سره دلته وهابيت راغلو ګني په زيارتونو او اخترونوبه مېلې کېدې ټالونه ، باني چغونه به وو د شرک له وجې د زيارتونو کلچر ختم شو د سماع محفلونه به کېدل په وادۀ ښادۍ کښې به ټنګ ټکور کېدو دغه هم تر څۀ حده کم شول د پښتنو زنانوو شټل کاک برقعه وه چې د هغې ځاے حجاب ونيو هر کله چې مذهب پنځې مضبوطې کړي نو د کلچر شکل اختيار کړي چې کله مونږ د امام ابوحنيفه په مذهب وو نو امن زيات وو خو چې کله دا نور مذهبونه راغلل نو د مسلکي کلچر په وجه زمونږ امن ته نقصان ورسېدو په جماتونو کښې دېوالونه ووهلے شول د مذهبي انتها پسندۍ له وجې يو بل سره غم ښادۍ پاڅې شول په جمات کښې به جمع وشوه نو بيا که به سل کسان راتلل خو ځان ځان له به ئې مونځ کولو په عربو کښې دوه درې کسان هم جمع کوي جماتونه هم د عربو په طرز جوړ شول لنډه دا چې زمونږ شکل و شباهت، لباس ،خوراک ، ناسته ولاړه يعنې ټول ژوند ئې په خپله غېږ کښې اغستے دے.

## د مغلو اثرات

په وسطي اېشيا کښې چې کومې تاتاري قبيلې اوسېدې په هغوي کښې د چنګېزخان په نوم يو سړے راپيدا شو چې دا ټولې قبيلې ئې رايوځاے کړې د دوي اصلي وطن منګوليا وو دوي اول په منګول ، بيا مغول چې وروستو ترېنه مغل جوړ شو د هغه ځاے نه دا خلق راخوارۀ شول او بيا د چنګېزخان نمسي هلاکوخان ډېرې علاقې فتح کړې . په تاريخ کښې د دوي باچائي د سلطنت مغليه په نوم ياده ده د دوي د لازواله او بې مثاله طرزحکومت له وجې نورې دنيا هندوستان ته د سرو زرو مرغۍ ووې .

چنګېزخان د چين د مشرقي ساحل نه واخله د يورپ ترمېنځه پورې يو لوې حکومت جوړکړو په دې کښې هنګري، روس، انډونېشيا، آرمېنيا، ترکي، افغانستان، ازبکستان، ايران، چين، پاکستان،

بنګله دېش او نورې ډېرې علاقې شاملې وې. په اېشیا کښې دا سلطنت په دیارلسمه او څوارلسمه صدۍ کښې جوړ شوے وو . په ۱۲۰٦ء کښې چنګېزخان د مغل حکومت اعلان وکړو د دوي نه پس تېمور دوه څلوېښت ملکونه فتح کړل چنګېزخان ، هلاکوخان او امیرتېمور ډېر جابرباچایان وو. په برصغیرکښې د مغل سلطنت باني ظهیرالدین بابر ګڼلے شي په۱۵۲٦ء کښې ئې ابراهیم لودهي ته ماتې ورکړه او د حکومت اعلان ئې وکړو .

د بابر نه پس همایون په تخت کښېناستو د همایون نه شېرشاه سوري حکومت واغستو. د ده نه پس په ۱۵۵٦ء کښې اکبر باچا شو او هندوانو سره ئې ښه تعلقات جوړ کړل . د ده نه پس بیا په ۱٦۲۷ء کښې شاجهان، چې انجنیر باچا به ئې ورته وئېلو د ده د دور ډېرعمارتونه اوس هم شته.

په ۱٦۵۸ء کښې د ده په باچاهۍ باندې د زامنو تر مېنځه جنګ ونښتو دغه جنګ اورنګزېب اوګټلو او په ۳۱ جولائي ۱٦۵۸ء کښې ئې حکومت جوړ کړو د تر ۱۷۰۷ء پورې باچائي اوکړه.

هر کله چې انګرېزان هندوستان ته راغلل نو دوي آخري مغل باچا بهادرشاه ظفر نه حکومت واغستو بهادرشاه د ۸۷ کالو په عمر کښې په کال ۱۸٦۷ء کښې وفات شو او دغسې د مغل سلطنت خاتمه همېشه د پاره وشوه. خو مغل قوم اوس هم د برصغیر په ډېروعلاقو کښې اباد دے .

" چې کله د مغلود شهنشاهیت او حکومت درباري اوسرکاري ژبه فارسي وه نوفارسي وان مالداره اوپښتانهٔ ناداره وو ځکه پښتنوبه اکثروئېل " مړه کېږه فارسي وائي " اوس دا وینا پښتو ادب کښې د متل په توګه استعمالېږي . "۱٤

مغلوزمونږ په کلچراوثقافت ډېراثرات پرېښي دي زمونږ په خبرواتروکښې ، په ادب او متلونود مغلو اثر واضحه دے که څوک به چاکره لاړواو عزت به ئې اونه شو نووئېل به ئې چې " کورئې مغلووهلے دے" . مغلو به لوټ مار کولو لکه دا ټپه

د پاسه رامه شې مغله
زما دسر روپۍ دا ستا قلنګ کښې ځینه

زمونږپه کلاسیک ادب کښې دمغلو ډېرذکرشته  په اولسي داستانونو کښې لکه یوسف خان شېربانو ، دے شهي او داسې نورو ډېرو پښتنو مغلو سره رشتې وکړې د پښتنو خپل ژوند قبائلي وو خود حکومتونو اغستل ، دا طرزئې د مغلو نه اغستے دے . په مونږ کښې د مغل د طرز حکمرانۍ اثرات شته . زمونږ زوړ طرز تعمیر هم د مغلو په شان دے لکه قلعې ، محلونه او باغونه وغېره . الغ بېګ سره د ملک سلېمان شاه او سلطان شاه اتحاد یا د خوشحال نیکونه او بنګش هم د مغلو اتحادیان وو . د جهانګیر په دور کښې د نهې " منګل " او شورو " بدهـ " په ورځ د غوښې ناغه مقررشوې وه چې تر اوسه جاري ده . په دربار کښې موسیقي غرړول هم د مغلو د حکومتونو کار وو .

## د فېرنګي اثرات

هر کله چې انګرېزانو په ۱٤ ستمبر ۱۵۹۹ء کښې ایسټ انډیا کمپني جوړه کړه او په ۱٦۱۲ء کښې برصغیر ته د تجارت په نیت راغلل نو دلته هغوي ورو ورو خپلې پښې کلکې کړې آخري مغل حکمران بهادرشاه ظفر ئې په رنګون کښې قېد کړو .

" په ۱۸٤۵ء کښې د سکهانو نه انګرېزانو د پېښور او یوسفزو مېداني علاقې قبضه کړې مېجر جارج لارنس د پېښور وړومبے ګورنر مقرر شو " ۱۵

خو د سېکهانو د ماتې په بابله چې انګرېزانو ورکړې وه ډاکټر بدرالحکیم حکیمزے په خپل کتاب د " پښتونخوا لنډه مطالعه " کښې په دې علاقو د انګرېزانو د قبضې وخت څلور پنځۀ کاله وروستو ښائي

" په ۱۸٤۹ء کښې انګرېزانو سېکهـ ته ماتې ورکړه او د پښتونخوا واک ئې خپلو لاسونو کښې واخېست . انګرېزان په علم ، هنر ، ټېکنالوجي ښه سمبال وو ځکه ئې په کامیاب حکمت عملۍ سره د پښتون خاوره د غلامۍ په زنځیرونو وتړله " ۱٦

خو کله چې یو قوم په بل قوم د حمله آور په حېث راځي نو دغه قوم په فکري او مادي لحاظ د بل قوم نه زیات طاقتور وي . د دغه قوم هوښیار خلق د راتلونکي قوم حصه شي خو دغه خلق ذهین هم وي او بې ایمانه هم . په مغلوب قام کښې دوه درې قسمه خلق وي څوک غلي پاتې شي څوک فرار اختیار کړي او څوک پکښې مزاحمت راواخلي . مزاحمت کار د دغه قوم هر څه ته بد وائي د

علم او سائنس د وجود نه هم ګرګه کوي ځينې خلقرد هغوي حصه شي د هغوي نوکري اختيار کړي او هر څه ورته کوي حسين احمد مدني وائي چې د انګريز د ټيلي ګراف سستم له وجې مونږ محکوم شو او يو انګريز هم وائي چې مونږ د ټيلي ګراف له وجې جنګ وګټلو پنځه ويشت زره انګريزانو د پنځه ويشت کروړه خلقو نه حکومت واغستو . فيرنګي سره نوې ټيکنالوجي راغله سرسيد د استد لاليت ، منطقيت او عقليت پسندئ نظريه د انګريز نه واغسته د شاه جهان ښځه مړه شوه نو د هغې په ياد کښې ئې تاج محل جوړ کړو خو چې د فليپ مور ښځه مړه شوه نو هغه د "ايل ـ ايچ ـ وي " LHV)) تصور ورکړو ځکه خو کارل مارکس هم وئيلي وو چې سل کاله پس به د برصغير خلق د ازادئ جنګ شروع کوي .

په دې علاقه د انګريز د لاس سړکونه ، پلونه ، ريل ګاډے ، د ريل پټلئ ، فوځي چهاونئ ، هسپتالونه ، سکولونه او کالجونه ، عن د ژوند داسئ شعبه به نه وي چې هغوي پرې کار نه دے کړے . توره چاے هم دلته انګريزانود ځان سره راوړې .

اوس هم زمونږ اکثر خلق د هغه نظام حصه ګرځيدلي دي د هغوي لباس ، ژبه ، خبرې اترې ، خوراک څښاک ، ږيره خرئيل ، شکل و شباهت جوړول ، د هغوي نوکري کول ، لنډه دا چې مونږ په هر کار کښې د هغوي نقل او پيښې کوو او هغه څوک قابل ګڼلے شي چې دوه څلور ټکي انګريزي وئيلے شي .

> " خو د وخت ضرورت دے چې پښتانه خپل تمدن ، تهذيب او ثقافت ته نوره هم پام لرنه او وده ورکړي . ځانونه د نړئ د نورو قامونو سره د سيالئ جوګه کړي . خپل قام ته د وقار او ارام ژوند په برخه کړي . او په شعوري توګه د خپل تمدن ، ثقافت او تهذيب د ترقئ له پاره لارې چارې هم ولټوي او په پوره اخلاص په دې لړ کښې هلې ځلې هم وکړي " ۱۷

**ماخذونه**

۱: مشال راډيو، ګندهارا،(د پښتونخوا د لرغونو اثارو ننداره) عامر پرنټ اينډ پبلشرز پيښور ، ۲۰۱۶ء، ص ۷
۲: همدغه اثر، ص ۴۹

۳: بشرئ خاتون ، ډاکتر ، د صوابۍ تاريخ (۲۰۰۰ق م نه تر ۱۹٤٧ء پورې ) ، عامر پرنټ اينډ پبلشرز پېښور، اول چاپ ، ۲۰۱۵ ، ص ٤٨
۴: حکيم زے ، بدرالحکيم ، ډاکتر ، د پښتونخوا لنډه مطالعه ، اعراف پرنټرز پېښور ، ۲۰۱۸ء ، ص٤٢
۵: بشرئ خاتون ، ډاکتر ، د صوابۍ تاريخ (۲۰۰۰ق م نه تر ۱۹٤٧ء پورې ) ، عامر پرنټ اينډ پبلشرز پېښور، اول چاپ ، ۲۰۱۵ ، ص ٦٠
۶: عبدالحی حبيبي ، د پښتو ادبياتوتاريخ ، د پښتو ادبياتو مرکز سرائے نورنګ بنو ، کال ، نه لري ، ص ۳۱
۷: بشرئ خاتون ، ډاکتر ، د صوابۍ تاريخ (۲۰۰۰ق م نه تر ۱۹٤٧ء پورې ) ، عامر پرنټ اينډ پبلشرز پېښور، اول چاپ ، ۲۰۱۵ ، ص٨٢
۸: يوسفزئ ، نورالامين ، آرټ ، کلچر اور تاريخ ، دي پرنټ مېن پرنټرز ، پشاور ، کال ندارد ، ص٦
۹: مشال رېډيو ، ګندهارا ، (د پښتونخوا د لرغونو اثارو ننداره ) عامر پرنټ اينډ پبلشرز پېښور، ۲۰۱٦ء ، ص ۲۵
۱۰: بشرئ خاتون ، ډاکتر ، د صوابۍ تاريخ (۲۰۰۰ق م نه تر ۱۹٤٧ء پورې ) ، عامر پرنټ اينډ پبلشرز پېښور، اول چاپ ، ۲۰۱۵ ، ص ۱۲٤
۱۱: همداغه اثر ، ص ٨٤
۱۲: همدغه اثر، ص٨٦
۱۳: مشال رېډيو ، ګندهارا ، (د پښتونخوا د لرغونو اثارو ننداره ) عامر پرنټ اينډ پبلشرز پېښور ، ۲۰۱٦ء ، ص ۲۲
۱۴: داود ، داور خان ، پروفېسر ، د پښتو ادب په پراختيا کښې د فارسۍ کردار ، آفاق پرنټرز، جنګي محله پېښور ، اکتوبر ۲۰۱۷ء ، ص ۵
۱۵: همدغه اثر، ص ۱
۱۶: بشرئ خاتون ، ډاکتر ، د صوابۍ تاريخ (۲۰۰۰ق م نه تر ۱۹٤٧ء پورې ) ، عامر پرنټ اينډ پبلشرز پېښور، اول چاپ ، ۲۰۱۵ ، ص ۱۷٨ - ۱۷۹
۱۷: حکيم زے ، بدرالحکيم ، ډاکتر ، د پښتونخوا لنډه مطالعه ، اعراف پرنټرز پېښور ، ۲۰۱۸ ء ، ص۹۳